مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نور وهاب ځپاند

۲۰۲۰/۰۵/۰۶

نوی ګواښ

افغانستان لا تر اوسه د نړۍ سیمې د زبر ځواکونو د سیالیو څخه په امان نه دی. د افغانانو له خوا جوړې واکمنۍ ته درناوی نه کیږي او په خورا سپین سترګی د هغې د نړولو ناروا لارې چارې تجربه شوي. زبر ځواکونو تل هڅه کړي موږ ته د واکمنۍ بڼه او د بهرنیو او کورنیو اړیکو لوری وټاکي. خو کله چې افغانانو د دیکتات په وړاندې مقاومت کړی خبره د افغانستان ویشلو او یا هم د سیمې د بل هېواد په توامیت کې ورکولو ته رسېدلې. زبر ځواکونو لا تر اوسه نه دا توان او نه یې هم د دې فرهنګ پیدا کړی چې، د افغانانو جوړې واکمنۍ ومنې او د هغوئ د ودې او پیاوړتیا سره مرسته وکړي او یا د خپلو تپل شوي واکمنیو د لږ تر لږه باثباته کېدو له پاره په کړو وعدو ودرېږي.
له دې کبله زموږ خلک زورېږي، وژل کیږي او په دې هم ملامتیږي چې ګواکې افغانان د ژوند کولو اړینه پوهه او د خپل وطن سره مینه نه لري! لېږي نه خو په نړدې تاریخ کې انګریزانو، روسانو، پاکستانیانو ماتې وخوړلې او امریکایان هم د ماتې په درشل کې ولاړ ښکاري. ماتې خوړلو د افغانستان جغرافیه وویشله، د وطن بنسټونه یې وران کړل، د خلکو ملي یووالی یې زیانمن کړو . خو دوي هم خیر ونه لېدو ، د بریانیا امپراطوري ماته شوه، شوروي اتحاد ونړید، پاکستان د تجزیې او اقتصادي ګړنګ په غاړه ولاړ دی.
امریکا د اقتصادي سیاسي ستونزو او نړیوالي انزوا سره لاس او ګریوان ده او د خپلو نوساني پالیسیو په لړ کې د معاصري دموکراسۍ پر بنسټ د افغان واکمنۍ د تقویه کولو پر ځای، د طالب داعش ترهګرو ډلو پر مټ په افغانستان او سیمه کې د خپل نفوذ او موقف ساتلو په بابیزه کار بوخته ده.
تجربو ښودلې چې هیڅ هېواد د خپلو ګټو له چوکاټ څخه بهر کله هم افغانستان ته رغوونکې مرسته نه ده کړې، خو بیا هم یو شمېر روڼ اندو د څلورو لسیزو جګړو ورانیو د بیا جوړونې په موخه د امریکا او ناټو مرستو کولو ته زړه ښه کړی او دا یې د جګړو د خرابیو څخه د وتلو په موخه د هېواد اړتیا بللې. اوس چې د افغانستان د ټولنې یو لړ بنیادونه په پخیدو دي، افغانان له نوي ګواښ سره مخامخ شوي.
پاکستان، ایران او په یو مقدار کې روسیه نه غواړي افغانستان په خپلو امکاناتو او زیرمو متکي هېواد وګوري، په طالبانو د پانګوني له امله دغو هېوادونو امریکا له ژوبلې ګوتې داسې نیولې چې د دوي په ګټه د دوحې هوکړې ته زړه ښه کړي. امریکا اوس د هغې د پلې کېدو له پاره افغانستان تر راز راز فشارونو لاندې نیسي. یانې د دوه سرې حکومت تجربه باید پایښت ومومي، د مشورتي لوي جرګې پریکړو او سپارښتنو ته شا شي، د ولسمشرۍ ټاکنې ناچله شي، د ولسمشرۍ تحلیف دوه ګوني مراسم تحمیل شي، لنډمهاله میکانیزم چې طالبان او د ځان بولي ولسمشر (عبدالله) خوا یې غوښنه برخه وي طرح او پلی شي.
که داسې ونه شي، لمړی امریکا بیا لږ وروسته ناټو مرستې بندوي، طالبان داورکم پر ځای تاوتریخوالی زیاتوي، که دې هم اغیز ونه کړو د کورونا ویروس د خوریدو په پلمه امریکا د خپلو ځواکونو د ایستلو دړکې کوي او وایي چې د بلک واټر په چوکاټ کې د طالب ملیشو تنظیمولو له لارې داعش، القاعدي او نورو ترهګرو ډلو په وړاندې سیمه ایزي او نړیوالي دندې مخته وړلی شي او نور .
په کورنۍ بعد کې دغې رسوا سناریو ته ټولې هغه ډلې ټپلې، چې له طالبانو سره د هر ډول معاملې ملاتړې دي، د ټاکنو له پایلو سره بې ځایه مخالفت کوي، د افغانستان د اوسنې سیاسي کړکیچ حل د پاکستان، ایران او روسیې د ګډ لیدلوري په چوکاټ کې غواړي، کار کوي.
نوی ګواښ چې تر ډېرې کچې د افغانانو په مقابل کې سایکولوژیکې جګړې ته ورته ګواښ بلل کیږي د هېوادوالو په وړاندې ځنډ نه منونکې دندې ږدي. هغه دا چې :

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانان اړ دي چې ورو ورو په بهرنيو مالي مرستو خپله تکيه لږه کړي، له کورنيو امکاناتو څخه د ګټې اخيستنې ظرفيتونه لوړ کاندي. دې موخې ته د رسېدو له پاره هېوادوال په خپلو کې د يووالي کولو د يو ځوابګوي نظام جوړونې او ښې حکومتولۍ ته د ودې او پياوړتيا ورکولو په برخه کې اړينو اقداماتو او پايله لرونکې فعاليتونه ته لار برابره کړي.
دې موخې ته رسېدل هغه وخت امکان لري چې په تيرو دوه لسيزو کې د بهرنيو وريدلو مرستو په اثر د رامنځته شوي مفسد قشر لاسونه د افغاني نظام او حکومتولۍ له ستونې لنډ شي. تر څو چې مفسد قشر او زورواکي د افغانستان د نظام او حکومتولۍ برخه وي په بهرنيو مرستو اتکا نه لږيږي او له کورنيو زيرمو د سالمې استفادې امکان کله هم نه برابريږي. ځکه دا مفسد قشر او زورواکي دي چې بهرنۍ لاسوهنې ته لار ورکوي، د افغاني ټولنې او نظام واک بهرنيو لاسونو ته سپاري چې د هغې له امله نه افغانان ښه ورځ موندلی شي او نه له بحرانونو وتلی شي.
د افغانستان خلک په تيره بيا هېوادنۍ سياسي ګوندونه، مدني ټولنې او خپلواک ملي شخصيتونه کولی شي چې په خپلو کې د فکري ټکو د ډېرولو له لاري داسې يو خوځښت په لاره واچوي څو د هغه مفسد قشر جړې له بيخه وباسي چې د ناروا شتمنيو ، حکومتي واک او زور له لاري په دولت، سياست او افغاني ټولنې منګولې خښوي او هر څه په ولکه کې اخلي، د ډموکراسۍ په جامه کې د هر هېوادنۍ ډموکراټيک بهير مخه نيسي او هېواد د ستر بحران ګرداب ته ټيل وهي.
د کورونا په وژونکو شرايطو کې افغانستان او د نړۍ نور هېوادونه له خپريدونکې وبا سره د مبارزې او د خپلو ټولنو او نړۍ د اقتصادي، ټولنيزو او سياسي رامينځته شوي ستونزو حل د سم مديريت په چارو کې د ستر ازمايښت سره لاس او ګريوان دي. د نړۍ مشهورو څيړونکو او شنونکو يوسکا فيشر ، بارنت روبين او هنري کسينجر په خپلو څرګندونو کې اشاره کړې چې له کورونا وروسته نړۍ به بدله وي، په همدې بنياد ويلی شو چې افغانستان به هم اوسنی افغانستان نه وي. له دې کبله افغانان بايد له نړۍ سره يو ځاي هغه وضعيت ته تغير ورکړي چې د هېوادوالو قسمت يې د ناروغيو ، جګړې او تاو تريخوالې سره غوټه کړی دی. افغانستان نور په ناروغيو ، خوارځواکيو ، بې ثباتۍ کې پاتې ساتل او د نړۍ او سيمې د زبرځواکونو د سياليو په ډګر کې اخته پريښودل انساني کړنه نه ښکاري.
د نوي ګواښ کومه څپه چې زموږ هېواد او خلک تهديدوي او لامل يې هماغه مفسد قشر او بهرنۍ لاسوهنه ده، بې له ځنډه مخنيوی په کار دي. له طالبانو سره د سولې موافقه، د عبدالله له خوا منځته راغلې سياسي ستونزه ، د ګاونډيو او نړۍ دهېوادونو سره سياسي تعامل او نور ټول بايد د قانون او افغانستان د ملي ګټو له دريځه حل او پلې شي. له دې پرته د هېواد سلامت ته پيښ ستر خطرونه نه شي له منځه تللی.
د کورونا د وبا کنټرولول ملي نړيوال نوي مديريت ته اړتيا لري، د نوي مديريت اجزا او عناصر ښايي ډېر وي، خو د طبي ستندرد لارښوونو د يوې پلې کېدونکې ټولګې برابرول ، له طبي زيرمو - پرسونل او نوښتونو پر ځاي او ژوره ګټه اخيستل، د ټولنيزې خبرتيا د کچې پورته بيول، د خلکو د اړتيا وړ خوراکي او صحي توکو برابرول او عادلانه ويشل، د طبي او صحي لارښوونو اوريدو او پلې کېدو ته د خلکو رابلل او باوري کول، په ملي او نړيواله کچه د مرستو راټولول، هغه پر ځاي لګول او سرغړونکې په کلکه سزا رسول او په ټوله کې د بازخواست سطحه لوړول زيات اهميت لري او دغو ټکو ته د هېواد د چارواکو پاملرنه راګرځول اړين بلل کيږي.
د کورونا وبا د کنټرول کمپاين د افغانستان حکومت او خلکو په اوږو يوه بله مهمه دنده ږدې هغه دا چې د هېواد طبي صحي سيستم بايد د ۲۱ مې پيړۍ او د کورونا په څير وباګانو د بې له ځنډه مخنيوي په نوي پوهه، مهارت او وسايلو، مجهز او ورغول شي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ